British Red Cross

# د هغو افغانانو لپاره کړنلارې چې هڅه کوي د خپل د کورنۍ غړي برتانيې ته راوغواړي څو دوی سره يوځای شي

د ۲۰۲۲ کال د اپريل بڼه



کړنلارې د هغو افغانانو لپاره چې هڅه کوي د خپل کورنۍ غړي بريټانيا ته انتقال کړي، په څو ټکو پورې اړه لري، لکه؛ په بريټانيا کې د دغه شخص د ژوند څرنګوالی، د هغه د کډوالۍ څرنګوالی، د بهر پاتې کورنۍ له غړو سره د ده اړيکې او د دوی د ژوند شرايط. موږ لاندې ځينې عمده سناريوګانې په ګوته کړې؛ خو دا ټکې بشپړ ندی او زموږ سپارښتنه دا ده چې د حقوقی کارپوه صلاح او مشورې وغواړئ.

## حقوقي مساعدت څه ته ويل کيږي؟

حقوقی مساعدت کولی شي د حقوقی مشورې او نمايندګۍ د مالي لګښتونو په پوره کولو کې مرسته وکړي. له بده مرغه، برتانيې ته د کورنۍ د راوستلو اړوند غوښتنليکونو په اړه کوم قانوني مساعدت نشته، پرته له دې چې د حقوقی مساعدت اداره (LAA) په استثنايی ډول کومه غوښتنه ومني چې لومړې بايد دغې ادارې څخه د استثنايي تمويل غوښتنه (ECF) وشي. که چېرې تاسو نشئ کولی په شخصي توګه حقوقی وکيل ته پيسې ورکړئ، ځينې حقوقی وکيلان او خيريه موسسې چمتو دي چې د استثنايي تمويل غوښتنې (ECF) لپاره د غوښتنليک په اړه مرسته وکړي.

## بريټانيوي وګړي

په برتانيه کې د برتانيوي وګړو لپاره کومې لارې شته چې دوی وکولئ شي د کورنۍ غيربرتانياوي غړي له افغانستان څخه راوباسي؟

The power of kindness

برتانیوي وګړي هغه کسان دي چې په برتانیه کې د پاتې کېدو یا میشت کېدو اقامه لري او د نامحدودې مودې لپاره پاتې کېږي کولی شي د کورنۍ د ځینې غړو لپاره لکه؛ میره، میرمن، د ژوند ملګري او له ۱۸ کلونو کم عمر ماشومانو لپاره د کورنۍ ویزې غوښتنه وکړي. د حقوقی وکیل د فیس ترڅنګ، د غوښتنلیک فیس هم شته. د کورنۍ هغه غړی چې په برتانیه کې د کورنۍ د غوښتنلیک سپانسر کوي باید د دوی د اړیکو اثباتیه اسناد هم وړاندې کړي او داسې نورې اړتیاوې پوره کړي. نور معلومات دلته موندلی شئ.

هغه برتانیوي اتباع چې اوس هم په افغانستان کې دي باید د دې ویب پاڼې له لارې خپل شتون د برتانیې د بهرنیو چارو، دولت مشترکاتو او پراختیا دفتر (FCDO) سره ثبت کړي او د مشورې لپاره دې دغې شمیرې سره اړیکه ونیسي 516666 1908 44+

### کډوال یا هغه کسان چې تر بشري خوندیتوب لاندې دي

**هغه افغان اتباع چې په برتانیه کې د کډوالو په څېر یا تر بشردوستانه خوندیتوب لاندې اوسېږي، له افغانستان څخه د کورنۍ د غړو د راوستلو لپاره کومې لارې لري؟**

هغه کسان چې په برتانیه کې د کډوالو په څېر یا تر بشري خوندیتوب لاندې اوسېږي، کولی شي د کورنۍ د بیا یوځای کېدو ویزو لپاره غوښتنلیکونه وسپاري ترڅو د کورنۍ ځینې غړي لکه؛ میرمن، میره، د ژوند ملګري او تر ۱۸ کلونو کم عمر ماشومان راولي. دغه غوښتنلیکونه وړیا دي او قانوني مقررات یې د نورو ویزو په پرتله آسان دي.

د کورنۍ نور غړي تر استثنایي شرایطو لاندې راوستل کېدی شي او غوښتنلیکونه، چې فیس هم پرې راځي، باید د مهاجرت قانون له مقرراتو څخه بهر وسپارل شي.



د کورنۍ د بیا یوځای کېدو د ویزو غوښتنلیکونو لپاره هیڅ راز مالي مرسته د قانون لمخې نشته، پرته لدې چې استثنایی شرایط شتون ولري او د استثنایي تمویل غوښتنې (ECF) په ترڅ کې ورکړل شي. خو ځینې حقوقی وکیلان ژمن دي چې د دغو غوښتنلیکونو په اړه وړیا مرسته وړاندې کړي. د برتانیې د سره صلیب بنسټ هم کله ناکله کولی شي له خلکو سره د کورنۍ د بیا یوځای کېدو د ویزو غوښتنلیکونو اړوند چارو کې لکه؛ د مدارکو راټولول او د فورمو ډکولو کې، په لندن، لیورپول، پریسټن یا پلایموت ښارونو کې مرسته وکړي. نور معلومات دلته موندلی شئ.

همدا راز د برتانیې د سره صلیب بنسټ، د سفر په اړه هم مرستې وړاندې کوي څو د هغو کورنیو لپاره د الوتنو په برابرولو کې مرسته وکړي چې د کورنۍ د بیا یوځای کېدو ویزې برتانیې ته د تللو لپاره ورکړل شوې. له بده مرغه په افغانستان کې اوس مهال دغه خدمات ځنډول شوي دي. هیله ده د تازه معلوماتو لپاره زموږ ویب پاڼه وګورئ.

هغه کسان چې د ARAP او ACRS برنامې لاندې قرار لري، د کډوالۍ حیثیت یا بشردوستانه خوندیتوب ورته نه ورکول کېږي، پرته له هغو کسانو چې د ACRS د دویمې (۲) ارجاع له لارې دغې برنامې ته ورپېژندل کېږي (لاندې معلومات وګورئ).

### په برتانیه کې پناه غوښتونکي

**آیا په برتانیه کې د پناه غوښتونکو لپاره کومه لاره شته چې دوی د کورنۍ غړي له افغانستان یا ګاونډیو هیوادونو څخه راوړي؟**

له بده مرغه، د کډوالۍ قانون په مقرراتو کې د پناه غوښتونکو لپاره هیڅ کومه قانوني لار نشته چې د کورنۍ غړي برتانیې ته راوړي. حقوقي وکیلان ښایي کله ناکله د کډوالۍ قانون له مقرراتو څخه بهر د کورنۍ د بیا یوځای کېدو غوښتنلیکونو کې مرسته کولو ته لیوالتیا ولري خو هغه هم په داسې حال کې کېدی شي چې خورا قوي او زړه راښکونکي دلیلونه موجود وي چې پر بنسټ یې استثنایي تصمیم ونیول شي.

## د کورنۍ کوم غړي د دې وړتیا لري چې د **ARAP** برنامه کې ومنل شي او برتانیې ته راوستل شي؟



هغه کسان چې د ARAP د برنامې له لارې وړ موندل شوي دي کولی شي خپل میره، میرمن، د ژوند شریک او له ۱۸ کلونو کم عمر لرونکي ماشومان له ځانه سره برتانیې ته راولي. د کورنۍ نور غړي به یوازې تر استثنایي شرایطو لاندې انتقال شي. نور معلومات دلته د مهاجرت قانون د مقرراتو په ۷ مه برخه کې د "اړونده افغان اتباعو" په اړوند مقرراتو کې موندلی شئ. تاسو کولی شئ هڅه وکړی او د دفاع وزارت سره اړیکه ونیسئ
localstaffafghanistan@mod.gov.uk
یا د دغه فورم ARAP contact form په کارولو سره ومومئ چې آیا دوی ستاسو د کورنۍ نږدې غړو ته کومه مرسته وړاندې کولی شي او یا د یو مهاجرتی وکیل موندلو هڅه وکړئ چې تاسو سره په درسخواست کولو کې مرسته وکړي.

## د کورنۍ اضافي غړي به څنګه کیږي؟

هغه کسان چې د ARAP برنامې ته درخواست کوي، د کورنۍ د اضافي غړو د انتقالولو غوښتنه هم وکړي. د کورنۍ د اضافي غړو د وړتیا ارزولو په اړینو ټکو کې د کورنۍ اړیکو نږدېوالی، د ښکیلو اشخاصو کورنۍ ځرنګوالی او په افغانستان کې د ARAP برنامې د درخواست کونکي د کار ځرنګوالی چې د هغه کورنۍ غړو ته یې تهدید رامینځته کړی، شامل دي. نور تفصیلي لاربښوونې دلته ومومۍ. تاسو کولی شئ دا لاندې د غوښتنلیک فورمه ډکه کړئ او د دفاع وزارت برېښنالیک ته چې په دغې فورمه کې شته دی، واستوئ.

20211211-LOTR_Applicant_Information_

## خلک څنګه په **ACRS** برنامه کې منل کیږي؟

د ACRS برنامه له ARAP برنامې سره توپیر لري، ځکه چې د غوښتنلیک سپارلو لپاره کومه پروسه نلري او دغې برنامې ته کسان له دریو لارو څخه وړپیژندل کیږي.



1. هغه خلک چې زیان لیدونکي دي او له تهدید سره مخ دي او د تخلیې تر پروګرام لاندې برتانیې ته انتقال شوي دي. همداشان هغه کسان چې د برتانیې حکومت لخوا د انتقال لپاره غوښتل شوي وو خو الوتکې ته ونشول رسیدلی.

2. د ۲۰۲۲ کال د پسرلي سره سم، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR) به هغه کډوال راجع کړي چې له افغانستان څخه تښتیدلي او بیا میشتیدنې ته اړتیا لري.

3. د لومړي کال په اوږدو کې به حکومت د ACRS په برنامه کې د برتانیې د قنسلګرۍ او GardaWorld قراردادیانو، او د Chevening پخوانیو محصلینو ته فرصت ورکړي.

د برتانیې د بهرنیو چارو، دولت مشترکاتو او پراختیا دفتر (FCDO) به د راتلونکو ګامونو له لارې د دغې ډلې د ملاتړ لپاره معلومات وړاندې کړي. د ACRS برنامې په اړه نور معلومات دلته موندلی شئ.

## هغه اشخاص چې په دغه برنامه کې منل شوي، د کورنۍ کوم نږدې غړي له ځان سره راوستلی شي؟

هغه کسان چې د ACRS په برنامه کې منل شوي وي کولی شي چې خپل میړه، میرمن، د ژوند ملګري او تر ۱۸ کلونو کم عمر لرونکي ماشومان راوړي. هغه ACRS اشخاص چې دمخه په برتانیه کې دي او د کورنۍ له نږدې غړو څخه جلا شوي کولی شي هڅه وکړي او د بهرنیو چارو، دولت مشترکاتو او پراختیا دفتر (FCDO) سره اړیکه ونیسي ترڅو تایید شي چې د دوی نږدې کورنۍ په دغه برنامه کې وړ دي او د کورنیو چارو وزارت څخه غوښتنه کوي چې دوی ته ویزې ورکړي. همدارنګه دوی کولی شي هڅه وکړي او یو د کډوالۍ وکیل ومومي چې پدې اړه له دوی سره مرسته وکړي.

## د هغه اشخاصو لپاره چې دمخه د **ACRS** برنامې له لارې برتانیې کې میشت شوي دي آیا داسې کومه لاره شته چې دوی وکولی شي د خپل اضافي کورنۍ غړو راوستلو لپاره غوښتنه وکړي؟

د ACRS برنامې اشخاصو لپاره چې دمخه په برتانیه کې دي د غوښتنلیک کومه پروسه یا د مهاجرت کومه لاره شتون نلري خو هڅه وکړي او د کورنۍ اضافي غړي له ځانه سره راوړي. یوازینۍ کړنلاره دا ده چې دوی هڅه وکړئ او یو د کډوالۍ وکیل وموممئ چې تر استثنایي شرایطو لاندې د کډوالۍ قواعدو څخه بهر د فامیلي ویزې لپاره غوښتنه وکړي.

## څنګه کولی شم حقوقي وکیل پیدا کړم؟

تاسو کولی شئ په برتانیه کې د حقوقي ټولنې په ویب پاڼه کې حقوقي وکیل ولټوئ؛ د "قانوني مسلې او د بدلیدونکي هیوادونه" پاڼې ته ولاړ شئ او خپل پوسټ کوډ، سیمه یا ښار دننه کړئ او پلټنه وکړئ.

تاسو کولی شئ د دې ویب پاڼې د "د کډوالۍ مشاور وموموئ" لټون له لارې د برتانیې د کډوالۍ خدماتو کمیشنر دفتر (OISC) لخوا تنظیم شوئ قانوني استازی وپلټئ. مناسب حقوقي استازي هغه کسانو ته ویل کیږي چې د پناه غوښتنې

او ساتنې په کټګورۍ کې په ۲ یمه یا ۳ یمه کچه مجوز لري. ځینې حقوقي وکیلان په مستقیم ډول خلکو ته مشورې وړاندې کوي. په دغه ویب پاڼه کې د د وکیلانو شورا د "د وکیل موندلو" پاڼې له لارې لټون کیدی شي.

د کډوالو حقوقي ملاتړ او سیف پسیج د (افغان پرو بونو نوښت) په نوم د قانوني مشورې یوه وړیا پروژه جوړه کړې ده. تاسو کولی شئ نور جزئیات په دې ویب پاڼه کې ومومئ او د دغه بریښنالیک cases@afghanprobono.org.uk له لارې ورسره اړیکه ونیسئ.